# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## د سليم خور څه وويل؟

Nina Orange
Wiehan de Jager
Zahidullah Abid

This work is licensed under a Creative Commons Attribution 3.0 International License.
https://creativecommons.org/licenses/by/3.0

# د سليم خور څه وويل؟

Nina Orange
Wiehan de Jager
Zahidullah Abid

4

پښتو ps

یو سهار وختي د سلیم انا هغه ته غږ وکړ، “سلیمه! مهرباني وکړه دا هګۍ خپل مور او پلار ته یوسه، ستا مور او پلار غواړي چې ستاسو د خور د واده لپاره غټ کېک پوخ کړي”.

په لاره کې، سلیم دوه هلکان ولیدل چې میوه یې راټولوله. یوه هلک له سلیم څخه هګۍ واخیستله او په ونه یې وویشتله. هګۍ ماته شوه.



د سلیم خور لږ څه فکر وکړ، بیا یې وویل: "سلیمه وروره، زه د ډالیو ډېره پروا نه لرم، د کېک پروا هم نه لرم، دا چې موږ ټول دلته سره یو ځای راټول شوي یو، ډېره خوشحاله یم، اوس نو خپلې جامې واغونده، او راځه چې دا ورځ ولمانځو!" سلیم همداسې وکړل او د واده په خوښۍ کې یې برخه واخیسته.

سلیم خفه شو او په غوسه یې ورته وویل، "دا دې څه وکړل!!!" سلیم په ژړغوني غږ وویل، "دا هګۍ خو زما د خور د کیک پخولو لپاره وه، که کیک نه وي، خور به مې څه وایي؟؟"



سلیم ژړل، "زه څه وکړم؟" "هغه غوا چې وتښتېده یوه ډالۍ وه، د هغه وښو په بدل کې چې خټګرو ماته راکړې وه. خټګرو ماته ځکه وانښه راکړه، چې هغه لکڼه یې راته ماته کړه، کومه چې د میوو ټولوونکو ماته راکړې وه. میوو ټولوونکو هغه لکڼه ځکه ماته راکړې وه چې هغوی د کېک لپاره هګۍ ماته کړې وه، اوس نو نه هګۍ شته، نه کېک، او نه هم ډالۍ."

هلکانو د سلیم په ځورولو بخښنه وغوښته. یو هلک وویل: "مورِ د کېک په اړه درسره مرسته نه شو کولی، مګر دا ستا د خور امسا یا د تلو لکڼه ده." سلیم روان شو.



خو غوا د ماښام مهال بېرته بزګر ته وتښتېده. نو هماغه و چې په سلیم ډېر ناوخته شو. هغه د خپلې خور واده ته په داسې وخت کې ورسېده، چې میلمنو د شپې ډوډۍ خوړله.

سلیم کور ته په لاره دوه سړیان ولیدل چې کور جوړوي، سړیو له سلیم څخه غوښتنه وکړه، او ویې ویل "ایا موږ کولای شو چې د چت لپاره دا قوي لکڼه وکاروو،" سلیم وویل، "هو!" سړیان لرګي را واخسته خو ماته شوه او دومره قوي نه وه چې د کور جوړولو لپاره دې ترې ګټه واخیستل شي.



غوا بخښنه وغوښته، بزګر ومنله چې دا غوا د ځان سره د خپلې خور لپاره د ډالۍ په توګه له ځان سره بوځي. نو ځکه سلیم هغه له ځانه سره روانه کړه.

سلیم وویل "تاسو دا څه وکړل؟" سلیم ژړل. "دا لکڼه زما د خور ډالۍ وه. د میوو ټولوونکو هغه لکڼه ماته ځکه راکړه چې دوی د کیک لپاره هګۍ ماته کړې وه او هغه کېک زما د خور د واده ؤ. اوس نو نه هګۍ شته، نه کېک شته او نه هم ډالۍ. زما خور به اوس څه ووایي؟"



سلیم وویل "تاسو دا څه وکړل؟" سلیم ژړل، "دا واښه زما د خور لپاره ډالۍ وو، خټګرو ما ته دا واښه ځکه راکړل چې هغوی د میوو راټولونکو هغه لرګي چې یې ماته راکړې وه ، ماته کړې وه. میوو راټولونکو ماته هغه لرګي ځکه راکړې وه چې هغوی زما د خور د کېک لپاره هګۍ ماته کړې وه. کېک زما د خور د واده لپاره و. اوس نه هګۍ شته، نه کېک او نه هم ډالۍ، خور به مې څه وایي؟"

خټګرو د لرګي په ماتولو بخښنه وغوښته. یو سړی ورته وویل: "موږ د کېک په اړه درسره مرسته نه شو کولی ، مګر دلته ستاسو د خور لپاره یو غوړګې یا واښه دی."
نو سلیم دا واخیست او روان شو.



د لارۍ په اوړدو کې، سلیم یوه غوا او بزګر ولیده. غوا له سلیم څخه وپوښتل. "څومره خوندور واښه، کولی شې لږ راکړې؟" خو واښه دومره خوندور وو چې غوا ټول وخوړل!